

د پالیسۍ لنډیز

# افغانستان تر ۲۰۲۱ ز. کال وروسته:

# د چین د سیمه ییزو لوړو هیلو او امنیتي پایلو لپاره؟

اندړیو واټکینز، تیمور شاران

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

دغه لنډیز، له ۲۰۲۱ ز. کال وروسته په افغانستان کې د چین ښکېلتیاوو ته رسېدنه کوي. دا څېړنه په ډاګه کوي، چې له افغانستانه د متحده ایالاتو د ځواکونو د وتلو د ماهیت په اړه د ناډاډمنتیا زیاتوالی او د دغه هېواد په پالیسۍ کې تغییر، څرنګه په سیمه کې د چین پرملي امنیت او اقتصادي موخو اغېزه کوي. چین او اروپایي ټولنه دواړه د بین الافغاني خبرو اترو څخه ملاتړ کوي. تر ۲۰۲۱ ز. کال وروسته، په کابل، پیکینګ او د اروپایي هېوادونو په پلازمېنو کې د امنیتي همکاریو او پرمختیا لپاره د کومو شرایطو ورانډوینه شوې ده؟ د افغانستان له نړیوالو شریکانو څخه د چین هیلې او تمې او د چین د موخو پر تراو د دغه شریکانو اندېښنې څه دي؟ په کومو برخو کې درې اړخیزه همغږي د ګډو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره ډېره اړینه او بریالۍ ده؟

چین او افغانستان پر ۱۹۶۰ ز. کال کې د دوستۍ او پر یو بل د نه یرغل دوه اړخیز تړون لاسلیک کړی او د اقتصادي تعامل په محوریت سره د سرې جګړې د وخت اړیکې یې ترسیم کړې[1]. له هماغې دورې راهیسې، په افغانستان کې، په ځانګړې توګه په اقتصادي برخو کې د چین لوړې هیلې ثابتې پاتې شوې دي. د افغانستان په سیاسي او امنیتي چارو کې دغه د ودې پرحال زبرځواک، خپل ګډون محدود کړی دی. دواړو هېوادونو په ۲۰۰۶ ز. کال کې د ۱۹۶۰ ز. کال د تړون او د «ښه ګاونډیتوب» د اصل پر بنسټ، خپله دوستي تجدید کړه چې پر بنسټ یې چین افغانستان او ګاونډیان په پراخه کچه له ثبات څخه د ملاتړ په تړاو راښکېلوي. چین په ټولیزه توګه، په افغانستان کې د خپل امنیت او اقتصادي ګټو د خوندیتوب په برخه کې، تر ډېره بریده پر پاکستان چې له ۱۹۶۰ کال راهیسې په سیمه کې د چین نږدې ملګری او متحد هېواد دی، تکیه کړې ده. خو پر ۲۰۱۴ ز. کال له افغانستانه د امریکایي سرتېرو د وتلو او په دغه هېواد کې د احتمالي امنیتي تشې د رامنځته کېدو له امله، داسې ښکاري، چې پیکینګ د خپلو لویدیځو پولو په څنډه کې افغانستان ته د یو لومړیتوب په سترګه ګوري. که امریکا او ناټو دواړه په بشپړ ډول له افغانستان څخه ووځي، نو چین کولی شي، افغانستان د خپل اقتصادي نفوذ ساحې ته نږدې کړي؛ ځکه چین له کلونو راهیسې د یو کمربند او یوې لارې تر طرحې لاندې د دغه هېواد د راوستو په اړه خبرې او بحث کړی دی.

## د چین اقتصادي او ډیپلوماتیک اهرم پراختیا

چین، په افغانستان او سیمه کې د پام وړ اقتصادي او ډیپلوماتیک نفوذ لري، خو لا تراوسه یې په کابل کې له دغه نفوذ څخه د سیاسي موخو لپاره ډېر لږ کار اخیستی دی. پیکینګ، چې په سویلي او مرکزي آسیا کې ځان د مخ پر وده اقتصادي زبرځواک په توګه ثابت کړی دی، تر هغه مهاله چې متحده ایالات په سیمه کې پوځي شتون ولري، په احتیاط سره به پرمخ ولاړ شي. د یو کمربند او یوې لارې او سینکیانګ او ګوادر چیني طرحه، چې د ځمکني او سمندري سوداګریزو مسیرونو پلان شوې شبکه ده، او اټکل کېږي، چې د اسیا له ټولو وچه سیمو څخه تېر شي، په پاکستان او د مرکزي آسیا په هېوادونو کې به د سترې پانګونې جوګه شي. دغه چاره، همدارنګه د نااندولتوب او ان په دوه اړخیزو اړیکو کې د هغوی د ښکیلتیا لامل شوې ده. چین له پاکستان سره ژمنه کړې، چې ٦٢ میلیارده ډالره یوازې د چین او پاکستان کوریډور (دهلېز) په برخه کې، چې د یو کمربند او یوې لارې د شپږو کوریډورونو له ډلې څخه یوه ده، پانګونه وکړي[2]. همدارنګه چین د ۲۰۲۰ ز. کال په اګست کې، د سوداګرۍ، سیاست او امنیت په برخه کې له ایران سره د ستراتیژیکو همکاریو یو تړون لاسلیک کړی، چې پر بنسټ یې د فارس په خلیج کې چین ته یو ستراتیژیک ځایځایګی وباښه[3]. په افغانستان کې، د چین دولتي شرکتونو یو کنسرسیوم، په ۲۰۰۸ز. کال کې د دغه هېواد د مسو د یوه ستر کان د تړون ګټونکی شو.

که متحده ایالات او لویدیځ شریکان یې له افغانستانه ووځي، نو له پاکستان سره د چین دغه نږدې ښکېلتیا او اړیکې، تر ډېره بریده کولی شي، د سیمې سیاسي فضا د چین په ګټه وڅرخوي او بدلون پکې را منځته کړي. دغه سترې پروژې چین ته دا اهرم په لاس ورکوي، ترڅو نور هېوادونه په ځانګړې توګه افغانستان دې ته مجبور کړي، چې د چین ثبات او امنیت ته ورپېښېدونکي ګواښونه په خپله خاوره کې له منځه یوسي. د یادونې وړ ده، چې پاکستان او طالبان، چې پر هغو ډلو نفوذ لري، چې د چین امنیت ګواښوي، تراوسه پورې په دې برخه کې د پام وړ اقدامات نه دي ترسره کړي. دې ته په پام سره، دغه پوښتنه پر خپل ځای پاتې کېږي، چې آیا پیکینګ د دغه موضوع په تړاو هغوی تر خپل فشار لاندې راوستي او د دغه چاره تر کومه بریده اغېزناکه کېدای شي.

---

۱ له ناڅرګندتیا څخه تر ستراتیژۍ پورې: په سیمه او افغانستان کې د راتلونکي ګټونکي سناریو لپاره امکانات څه دي؟ دا په افغانستان کې د فریدریش ایبرټ بنسټ یوه خپلواکه هڅه ده چې د افغانستان ګاونډیانو لپاره د احتمالي سناریوګانو، د پالیسۍ سمون او د اروپا د بهرنۍ سیاست جوړونکو تر منځ د جامع تګلارې اړتیا باندې بحث وشي. د پالیسۍ لنډیز د انډریو واټکینز او ډاکټر تیمور شارون لخوا د لیکل شوې پالیسۍ یوه برخه ده چې د متحده ایالاتو د وتلو اغیزې او د افغانستان د سولې د خبرو اترو موجودو ستراتیژیکو ګټو او په افغانستان کې دننه او بهر د کلیدي شریکانو ننګونو په اړه بحث کوي. د دې پالیسۍ لنډیز بشپړ مطلب کولای شی په لاندې پته تر لاسه کړئ. https://afghanistan.fes.de/publications

۲مریم صافی او بسم الله علیزاده، ۲۰۲۰، «د یو کمربند او یوې لارې په طرحه کې د افغانستان شاملېدل: څېړنه، تحلیل او لیدلوري»، فریډریش ایبرټ بنسټ، اګست ۲۰۱۸.

۳ عالم صالح او زکریا یزدان شناس، ۲۰۲۰ «له چین سره د ایران تړون د لویدیځ لپاره بد خبر»، فارن پالیسي، د اګست ۹، ۲۰۲۰.

## د افغانستان د سولې په تړاو د پکینګ امنیتي اندېښنې او دریځونه

که په ۲۰۲۱ ز. کال کې په افغانستان کې د لویدیځ حضور ته د پای ټکی کېښودل شي، نو د چین کرښلاره، تر ډېره بریده له افغانستان څخه زېږنده امنیتي ګواښونو په تړاو لکه بین المللي تروریزم او مذهبي توندلاریتوب[۴] په پام کې نیولو سره، تثبیت کېږي. د پیکینګ تر ټولو هدفمنده وېره، دا ده، چې ګواکې د دغه هېواد په شمال لویدیځ ایالت سینکیانګ کې به بې ثباتي او نا آرامي رامنځته شي؛ په ځانګړې توګه دا د دې ښودنه کوي، چې چین د ایغور توکم جهادیانو شتوالي او فعالیت تعقیب ته لېوالتیا لري، چې د طالبانو په کوربه توب د بهرنیو جنګیالیو یوه کوچنۍ ډله ده[۵].

په ایډیال حالت کې، د پیکینګ لپاره یوه حایله او باثباته سیمه کولی شي د ډاډمنتیا لامل شي، چې د ختیځ ترکستان خپلواک خوځښت (ETIM) نه شي کولی، د افغانستان او د مرکزي آسیا نورو هېوادونو له خاورې څخه د «مخ پر وړاندې موقعیت» په توګه، په سینکیانګ کې د بیلتون غوښتونکو فعالیتونو او نفوذ لپاره، ګټه واخلي[٦]. د سولې خبرو د ماتې او د لویدیځوالو بیړني شاتګ د تر ټولو ناوړه سناریو پایله، په افغانستان کې د دولت سقوط او ورپسې کورنۍ جګړه ده، چې کولی شي افغانستان یو ځل بیا د نړیوالو تروریستي سازمانونو پر پټنځای بدل کړي او د چین د لویدیځې سیمې په ګډون د ګاونډیو هېوادونو په پولو کې د بې ثباتۍ او بې قانونۍ لامل شي. داسې برېښي، چې پیکینګ د دغه احتمالي اوږدمهالو سناریوګانو وړاندوینه کړې ده. دغه طرحه، له کابل سره په پیل کې په امنیتي مرستو سره – که څه هم ډېرې لږې وې او د هغو نوښتونو له لارې پیل شوی ، چې په ټولیزه توګه پلي شوي نه دي. له ۲۰۱۳ ز. کال راهیسې داسې راپورونه خپرېږي، چې چین په خپل لویدیځ کې تاجکستان او افغانستان ته څېرمه غرونو کې یوه بې ساري پوځي اډه جوړه کړې ده[۷]. دغه ډول خوځښتونه بې سارې دي، خو په بشپړ ډول منفعلانه او دفاعي ماهیت لري، په ځانګړې توګه د افغانستان د نورو ګاونډیو تعامل ته په پرتلنه.

د افغانستان د سولې روان بهیر په تړاو د چین ټولیز وضعیت دا دی، چې په ماهرانه ډول په دې برخه کې د متحده ایالاتو تر مشرۍ لاندې هڅو څخه ملاتړ کوي. خو د پاکستان له پالیسۍ سره سم، په ښکاره ډول د یو شمېر اروپایي هېوادونو او نورو نړیوالو هېوادونو او سازمانونو له داعیې سره نه دی یوځای شوی، ترڅو طالبان د یو فوري اوربند په برخه کې تر فشار لاندې راولي. چین تر هغه ځایه چې په دې برخه کې خپل دریځ او مسایل مطرح کړي، «منظم» او «مسوولانه» شاتګ ته لومړیتوب ورکوي او د بیړنۍ شاتګ په تړاو متحده ایالاتو او ناټو خبرداری ورکړی دی. چین همدارنګه، د سولې په خبرو کې د متحده ایالاتو د کرښلارې په تړاو، چې زیات سیمه ییز رسمي اړخونه نه لري، اندیښمن دی . اوسمهال، چین ان په افغانستان کې د متحده ایالاتو د تروریزم ضد ځواکونو د شتوالي په تړاو، ښایي مثبت لید ولري. ویل کېږي، چې دغه هېواد هڅه کړې، د نورو سیمه ییزو قدرتونو په څېر، د طالبانو د سیاسي دفتر له غړو سره زیاتې لیدنې کتنې ولري. چین کلونه وړاندې له دغه ډلې سره اړیکې ټینګې کړې وې، خو له هغه و خت راهیسې، چې متحده ایالات،



خنجراب پاس، د چین او پاکستان ترمنځ پوله ده. دلته د سرحد تجارت د CPEC برخې په توګه په تېرو کلونو کې خورا لوړ شوی. (سرچینه: عبدالله شکور، ۲۰۱٦)

۴ د افغانستان په تړاو د چین پالیسۍ په اړه د AAN څېړنه وګورئ: Climbing on China's Priority List: Views on Afghanistan from Beijing - Afghanistan Analysts Network - English (afghanistan-analysts.org)
۵ د بېلګې په توګه وګورئ، ایف برینلی بروتن او توني براون، «متحده ایالات ایغور جنګیالي هدف ګرځوي، لکه څرنګه چې طالبان هدف ګرځوي»، " NBC نیوز، فبروري ۸، ۲۰۱۸ز.
٦ پاول سترونسکی او نیکولای، (۲۰۱۸)، «همکاري او سیالي: روسیه او چین په مرکزي اسیا، لېرې ختیځ او د روسیې شمال قطب کې» د سولې لپاره د کارنګي بنسټ، د فبروري ۲۸، ۲۰۱۸، همدارنګه وګورئ: CICIR مقاله.
۷ وګورئ: ګیري شی، «د مرکزي اسیا په منع شویو غرونو کې، یو ارام نوی داخلېدونکی، چیني ځواکونه»، واشنګټن پست، د فبروري ۱۸، ۲۰۱۹ز.

طالبان د سولې خبرو اترو کې راښکېل کړي، دغه اړیکې پرانېستې او لا روښانه شوې دي. د سولې د روان بهیر په تړاو د پیکینګ دریځ په اغېزناکه توګه د چین د هغې ستراتیژیکې ارزونې منعکسوونکې دی، چې پر ۲۰۱۴ ز. کال د متحده ایالاتو / ناټو ځواکونو د شاتګ پر مهال یې ترسره کړې وه، کله چې یې قضاوت کاوه، چې ښایي طالبان پرمختګ وکړي او یا زیاته سیاسي بې نظمي رامنځته شي[۸].

په افغانستان کې د چین موقعیت، پر سوداګرۍ، سیمه ییز اتصال او اوږدمهالې او تروریزم ضد پانګونې ته په ټینګار او اوسنیو پېښو ان له سیمې څخه د وتلو لپاره د امریکا هڅو ته په پام سره، کوم د پام وړ بدلون نه دی موندلی. سربېره پر دې، له افغانستان سره د چین تعامل به د متحده ایالاتو او چین په اړیکو د هیڅ ډول لانجې تر اغېزې لاندې رانه شي، ان که دغه اړیکې لا لانجمنې شي. په داسې حال کې چې د دواړو ترمنځ د همکارۍ ظرفیت ستونزمن شوی دی، دواړو هېوادونو چین او د امریکا متحده ایالاتو په سیالۍ او د اسیا په ټولو برخو کې بحث کېدونکو موضوعاتو په تړاو، د افغانستان د شخړې له راوړلو څخه، ډډه کړې ده[۹].

د چین وروستی تعامل، په زغم او تمو تعریف شوی، په ځانګړې توګه هغه څه چې د افغانستان د یو شمېر سیاسي مشرانو له خوا تعریف شوی دی؛ دوی هیله لري، چې چین به و کړای شي، په بهرني ملاتړسره د کابل په ټرلتیا کې تنوع رامنځته کړي او ان چین کولی شي پر پاکستان مثبته اغېزه ولري. خو اوسمهال د چین د ډیپلوماتیکې پالیسۍ لړۍ مخ په پراخېدو ده او داسې برېښي، چې چین به په نږدې راتلونکي کې په دې برخه کې نور قاطع ګامونه اوچت کړي. چین په تېرو څو کلونو کې د ملګرو ملتونو د امنیت په شورا کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کلني ماموریت د تمدید په تړاو، ستونزمنه ډیپلوماتیکه لوبه کړې ده[۱۰].

د امریکا د پوځونو له شاتګ سره جوخت – د هر مهالویش له مخې چې وي – ډېر اټکل کېږي، چې د لویدیځ په بودیجه او د مالي ملاتړ په کچه کې هم د پام وړ کموالی راشي، په دې توګه به کابل اړ شي، چې له چین سره خپلې اړیکې له پورته څخه تر ښکته پورې وڅېړي، په ځانګړې توګه د چین او ایران نږدېوالي او د پاکستان او چین اړیکو ته په پام سره. دغه اړیکې ښایي د دې ښودونکي وي، چې په راتلونکي کې د سیاسي، اقتصادي یا امنیتي خلا په صورت کې به له کومو سیمه ییزو لوبغاړو او موقعیتونو څخه ملاتړ وکړي. کله چې د نړۍ په لر او بر کې د چین د پانګونې په اړه خبرې کېږي د دغه هېواد د «نه لاسوهنې» کرښلاره، د دې ښودنه کوي، چې په افغانستان کې د یاد هېواد ښکېلتیا تر ډېره بریده، له پاکستان او نورو سیمه ییزو شریکانو څخه د تاریخي ملاتړ پر مخینې تکیه لري[۱۱].

## د ګټو د همغږې کېدو په تړاو له یو بل سره کار

اروپایي ټولنه او چین دواړه د سیمه ییزې سوداګرۍ او اړیکو د پرمختیا په اړه اقتصادي انګیزې لري. که څه هم افغانستان تر دا مهاله، د یو کمربند او یوې لارې طرحې د ګډون کوونکو په لیست کې نه دی شامل، خو چیني چارواکو، تر ډېره بریده د چین او پاکستان اقتصادي کریډور(دهلیز) د پراختیا له لارې، په دغه طرحه کې د افغانستان شاملېدو ته اشاره کړې ده[۱۲].

داسې ښکاري، که د یو کمربند او یوې لارې په طرحه کې افغانستان شامل شي، دا به په هغه صورت کې ممکن وي، چې د افغانستان سیاسي شاخصونه په ځانګړې توګه د سولې هوکړه لیک د ترلاسه کېدو او په کابل کې د پاکستان نوي نفوذ ته لېوالتیا ولري. د یو کمربند او یوې لارې مسیر کولی شي چین له اروپا سره ونښلوي، په ترانسپورتي لګښت او وخت کې د پام وړ کموالی راولي او د یو شمېر توکو په لېږد رالېږد کې د روسیې جغرافیایي لوړتیا وننګوي. پیکینګ تر دې مخکې، د تاجکستان – افغانستان – ترکمنستان د وسپنې پټلۍ لاره جوړه کړې وه. افغانستان، قرغیرستان او ازبکستان ته د ځمکنۍ لارې په توګه، څو نور سوداګریز مسیرونه هم چمتو کولی شي. هیله کېږي، چین د سترو زیربنایي پروژو او لوژستیکي ملاتړ سره، افغانستان سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي. د ناټو د وتلو په صورت کې، د چین تر مشرۍ لاندې مالي موسسې لکه د آسیا د زیربناوو د پانګونې بانک به کارنده ونډه ولري – څکه د لویدیځ د ملاتړ وړ موسسو د مالي ملاتړ کموالی تر ډېره بریده د چین لپاره د نفوذ د پراختیا فضا او زمینه برابروي. دغه ډول تر ډېره بریده ښایي په مرکزي آسیا کې د اروپایي ټولنې په پروګرامونو سره لکه د سویلي آسیا د برېښنا د سوداګرۍ او لېږد پروژې سره (کاسا ۱۰۰۰) د اروپا د پانګونې بانک ۷۰ میلیوني یورو مرسته، چې د قرغیرستان، تاجکستان، افغانستان او پاکستان ترمنځ د برېښنا د لېږد چارې شونې کوي، بشپړ شي[۱۳].

اروپایي ټولنه او چین دواړه یو باثباته افغانستان ته لېوالتیا لري، او له هغه ترټولو ناوړه سناریو چې افغانستان د کورنۍ جګړې پر ډګر بدلوي او د نړیوال تروریزم پر پټن ځای بدلېږي، ډډه کوي. اروپایي ټولنه، د متحده ایالاتو اوسني دولت په پرتله کېدای شي چین ته د نږدې کېدو زیات چانس ولري او ترې وغواړي، چې تر څو پر پاکستان له خپلې اغېزې څخه استفاده وکړي، چې د سولې په بهیر کې د بنسټیزې ښکېلتیا په موخه طالبان تر خپل فشار لاندې راولي. چین له طالبانو سره ښکاره ډیپلوماتیکې اړیکې لري او خپلې دغه اړیکې یې له څو کلونو راهیسې ټینګې ساتلې، خو داسې ښکاري، چې دغه چاره په سیمه کې د پاکستان د ګټو د خوندیتوب په موخه له اسلام اباد سره په سلا او مشورې ترسره شوې ده. دا چې د متحده ایالاتو په پرتله اروپایي ټولنه د چین له لارې پاکستان تر خپل فشار لاندې راولي، دغه چاره به له زیات بریالیتوب څخه برخمنه وي او کنه، خو د اروپا او چین ترمنځ وروستۍ تجربې، لکه څرنګه چې د ۲۰۲۰ ز. کال په دسمبر کې لاسلیک شوې سوداګریزې معاملې وښودلې، د دې چارې لپاره یو فرصت چمتو کوي.

د افغانستان د سولې روانه پروسه، له یو واحد سیمه ییز میکانیزم څخه برخمنه نه ده متحده ایالات د ۲۰۱۸ ز. کال په پای کې د دغه پروسې په پیلېدو سره، د سیمې مهم هېوادونه لکه ایران، هند، روسیې او چین څنګ ته کړل. د افغانستان، پاکستان، چین او متحده ایالاتو ترمنځ د څلور اړخیزې همغږۍ ډله، د یو پلټفورم په توګه، په ډېرو برخو کې پاتې راغلې دي. د پورتنیو قدرتونو او متحده ایالاتو ترمنځ چې اوسمهال له بېلابېلو ناورینونو سره مخ دي، د یو لړ مسایلو ته د نه حل کېدو په پام سره، اروپایي ټولنه او چین کولی شي رادمخه شي او په دې برخه کې بنسټیزه ونډه واخلي، ترڅو د سیمه ییز دیالوګ تشه ډکه کړي؛ په ځانګړې توګه چې له پاکستان او ایران سره د پیکینګ ډېرې نږدې اړیکې او همدارنګه د شانګهای د همکاریو سازمان کې د چین د فشار اهرم، کولی شي ان له روسیې او د مرکزي آسیا پنځو جمهوریتونو سره د مهم تعامل لپاره، ډېر ګټور وي. له دې سره سره، د افغانستان د سولې له پروسې د اروپایي ټولنې ملتیا او همغږي، د دغه ټولنې له لومړیتوبونو سره په ځانګړې توګه د بشري حقونو او د حکومتولي ارزښتونو په تړاو له ننګونې ډکې دي. دغه هڅه په بشپړ ډول نوښتیزې ډیپلوماسۍ ته اړتیا لري.

۸ . وګورئ، یان سن، «د افغانستان په اړه د چین ستراتیژیکه ارزونه»، وار ان د راک وېبپاڼه، د اپریل ۸، ۲۰۲۰.
۹ د چین او سویلي اسیا لپاره د متحده ایالاتو څېړنیزه ډله، «په سویلي اسیا کې د شخړو په ډینامیک کې د چین اغېزه، دسمبر، ۲۰۲۰ز.
۱۰ په تېرو څو کلونو کې د چین پلاوي په امنیت شورا کې هڅه کړې، چې د یو کمربند او یوې لارې د طرحې د تایید په تړاو په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ماموریت د تمدید په برخه کې صریحه ژبه وکاروي. وګورئ، میشل نیکولاس، «د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د افغانستان په تړاو د ملګرو ملتونو د ماموریت د تمدید پر سر د چین پر ویټو برلاسی کېږي»، رویټرز، د سپتمبر ۱۷، ۲۰۱۹ز.
۱۱ جیسون لی، «په چیني ځانګړو سره د شخړو حلول: چین څرنګه د خپلې نه لاسوهنې سیاست توجیه کوي»، د استمیسون مرکز، د اګست ۲۷، ۲۰۱۹ز.
۱۲ مریم صافي او بسم الله علیزاده، ۲۰۲۰، «د یو کمربند او یوې لارې په طرحه کې د افغانستان شاملېدل: څېړنه، تحلیل او لیدلوري»، فریډریش ایبرټ بنسټ، اګست ۲۰۱۸.
۱۳د اروپا کمېسیون، ګډه اړیکه، «د اروپا او اسیا اتصال، د اروپایي اتحادیې د ستراتیژۍ جوړونکي عناصر»، د سپتمبر ۱۹، ۲۰۱۸،

## وړاندیزونه

- اروپايي ټولنه او چين بايد له خپل ځواک څخه په ګټې اخيستنې سره او همدارنګه له پاکستاني لوري سره د مثبتو اړيکو په مرسته، په دې برخه کې کارنده ونډه ولوبوي، ترڅو د سولې د بهير په تړاو د طالبانو کړنلاره تر خپلې اغېزې لاندې راولي او له ځنډ پرته، طالبان د تاوتريخوالي کچې راټيټولو ته ژمن کړي؛ که څه هم يو بشپړ اوربند دې نه وي. سربېره پر دې دوی بايد اسلام اباد دې ته اړ کړي، چې په خپله خاوره کې د طالبانو پټنځايونه وتړي.
- اروپايي ټولنه او چين دواړه بايد يو رسمي هراړخيز سيمه ييز ميکانيزم را منځته کړي، چې د سيمې مهم هېوادو نه لکه هند، ايران پکې ګډون ولري، که څه هم هند په دې روستيو کې له چين سره لانجې لري. دغه سيمه ييزه اجماع کولی شي، د سولې او ثبات پر بهير او د اړتيا په صورت کې د اقتصادي او امنيتي همکاريو د لېږد پر اړتيا تمرکز وکړي.
- اروپايي ټولنه او چين بايد د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اوږدمهالو اختلافاتو او په ځانګړې توګه د سرحدي اختلافاتو د اوارۍ چارې، د افغان کډوالو بېرته ستنولو او مديريت، د دواړو هېوادونو ترمنځ د باور جوړونې هڅې تسهيل کړي.
- اروپايي ټولنه بايد له چيني پاليسي جوړونکو سره د خپلو موجودو ديپلوماتيکو شبکو څخه ګټه واخلي، ترڅو په افغانستان کې د تروريزم ضد او اقتصادي موخو ها خوا د پرمختيا او تلپاتي ثبات له کړنلارې څخه ملاتړ وشي.
- په افغانستان کې د پرمختيا په تړاو د اروپايي ټولنې او چين ترمنځ د همغمږيو هر راز هڅه او پراختيا، د بشري حقونو په تړاو د دواړو لورو د دريځونو ترمنځ ستر اختلاف دی. په همدې حال کې، دغه چاره، په نورو سيمو کې د دواړو لورو د همکاريو د ژورتيا پر مخ خنډ نه دی ګرځېدلی.

---

**د ليکوالانو په اړه**


داکټر تېمور شاران د افغانستان په امريکايي پوهنتون کې د عامه پاليسۍ مرستيال پروفيسور دی او تر دې پخوا د افغانستان لپاره د کړکېچ نړيوالې ډلې لوړ پوړی شنونکی و.

انډريو واټکېنز د افغانستان شخړې او سولې لپاره د هيله منده ډلې څېړونکی او شنونکی دی او د شخړو په مخنيوي کې ژوره ښکېلتيا لري. تر دې پخوا يې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو، بشري ټولنې، د امريکا متحده ايالتونو حکومت او خپلواک څېړونکي په توګه دندې ترسره کړې دي.


**د پښتې د انځورونو په اړه:**

د چين جمهور رئيس شي جين پينګ (له ښي نه دربيم) او د افغانستان اجراييه رئيس عبدالله عبدالله (له کيڼ نه څلورم) په بيجينګ کې د چين د خلکو په ناسته کې د ګډون په حال کې، ۱۷ مې ۲۰۱۶. کال.

انځور: رويټرز / محمد اسماعيل /


چاپ ©۲۰۲۱ په افغانستان کې د فريدريش ايبرت بنسټ

وېب پاڼه: www.afghanistan.fes.de



د فريدريش ايبرت بنسټ له ليکلي مخکينۍ اجازې پرته، د فريدريش ايبرت بنسټ له خوا هر راز خپرونو څخه سوداګريزه ګټه اخيستنه جواز نه لري.

په دغه خپرونه کې وړاندې شوي نظريې، د فريدريش ايبرت بنسټ د ليدلورو منعکسوونکي نه دي.